سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۶/۰۷/۳۰

# د اسلامي غورځنګونو د کړکیچ سلوک، دوه ګوني متضاد چلند

## د خدايي خدمتګار او د حماس تر منځ یوه پرتلېزه څېړنه

### پینځمه او ورستۍ برخه

د جرمني توبينګن پوهنتون د سیاستپوهنې انیستیتوت
د توبینګن پوهنتون د نړیوال سیاست او د سولې پلټنې څېرنپاړه
د جرمني د حبهارډ کارل پوهنتون د نړیوال سیاست، د سولې او کړکېچ څېرنې د نړیوالو اړیکو د مرکز څانګه
څېړنوال : ښاغلی میشایل هورترر
د تحریر هیات : ښاغلی توماس غوش
د څېړنې څېروونکی : ښاغلی اندریاس حزنکلیور او ښاغلی فولکر غتبرګر
ژباړن : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

## ۶ . د څېړنې پایلو ته ورستي کتنه

## ۶ . ۱ د دواړو قضیو د څېړنو او پلټنو پایلې

د دواړو علمي څېړل او تحلیل شوي قضیو پایلې په لاندې ډول خلاصه کیدای شي. د خدايي خدمتګارانو غورځنګ کې پر نړیوال کچ په لوړه درجه جهان شمولیت موندل شوي او ثابت شوي دی، همدا ډول د دوی د کړکیچ په موضوع کې او هم د دوی د کړکیچ د مخالفینو د محتویانو په درکولو او په پای کې همدارز د خدايي خدمتګارانو غورځنګ د مقاومت د توکو په غوراوي کې هم په لوړه درجه جهان شمولیت جوت لیدل کیږي.
پردې برسیره د کړکیچ حلولو کې او د عدم تشدد مبارزې په بهیر کې د دوی کړنې په نړیوال کچ د جهان شمولیت د لوړې درجې له غوښتنو سره اوډون او سمون لري.
برعکس د حماس قضیه کې په روښانه او څرګنده توګه داسې جوتیږي، چې دغه غورځنګ نړی په دوو برخو او یا دوو فرقو د مؤمن مسلمان او د کرغیرن دبنمن کافر تر منځ ویشي. په دې توګه د دوی په بنسټ کې یو ستر بنندیزه (افراطي) انحصاريت شتون لري. دا وضیعت بیا د دوی د کړکیچ په موضوع کې او د کړکیچ مخالفینو د محتویاتو په اړه ځان د پامور رابنکاره کوي. او په پای کې د دښمن په وړاندې دا ډول مفکوره یا فکري بنه یوې اعلان شوي وسله والې مبارزې ته وربهیږي. د حماس د کړکیچ هوارۍ او یا د کړکیچ حلولو لار په څرګنده توګه ځنبته ډیره د زور زیاتیو او تشدد ډکه لار ثابته شوې ده.
په دې ډول د دواړو قضیو پایلو کې تمه کیدونکې توقعات تر لاسه شول. دا تمې او پایلې د ښاغلی فن حورا لخوا په مطرح شویو قضیو کې د ځانګړې مانا په د ننه کې په پام کې نیول کیږي.(vgl Van Evera 1997: 51f)
د خدايي خدمتګار غورځنګ پر نړیوال کچ په ډیره لوړ درجه کې جهان شمولیت او په همدې مفکوره او تګلاره باندې ځنبت ډیر ټینګار کول، دا د دوی د ډېر عالي، پیاوړې او بنندیزه (افراطي) ډول د عدم تشدد د مبارزې له تګلارې سره سمون لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

په داسي حال کي چي د حماس غورځنګ کي په ډيره لوړه کچه او تر ورستي بريده له حده ځښت ډير انحصاري افراطي ذهنيت له لري جوت ليدل کيږي. همدغه افراطي ذهنيت د کړکيچ په حلولو کي په ډيره لوړ کچه بلکل له حده زيات ښنديزه يا افراطي تشدد د تاوتريخوالي سره مل په دوی کي ليدلای شوي دی.

## ۶. ۲ د درېيم متحول اړوند د ممکنه اړيکو شونتيا

که د نيواک ريښتني حالت څخه لږ ها خوا وکتلي شي، دواړه مطالعه او تحليل شوي قضيې د ورتوالي له کبله فوق العلاده په زړه پوري د پا موړ او په ستره کچه ګډې ځانګړي ځانګړنې هم ښيي: که دواړه پلټل شوي اړيکي په ځير سره وکتل شي، په عجيبه توګه په دواړو قضيو کي په لوړه کچه د پاموړ ګڼ شمېر ګډ مشترکات ليدل کيږي. د اسراييلو لخوا د فلسطيني اشغالي سيمې او همداراز د NWFP يا پښتونخوا نيولي شوي او کلابندي شوي سيمې جبراً په وچ زور سره د بهرنۍ نړۍ څخه په انزوا کي ګوښه ساتلي شوي دي. د نيواک دا ډول حالت په لوی لاس د دوی د خپلواکۍ برحقه حقونو باندې محدويتونه لګولي دي. په دواړو قضيو او حالاتو کې د نيواک د مستقيمو اغېزو او پايلو له امله ډير بد ويجاړونکي اقتصادي حالات رامنځ ته شوي دي او لا هم شتون لري. دې حالت خلک په يوه ډير بد او ناوړه ټولنيز بيړني وضعيت کې را ايسار کړي دي. همدارنګه د نيواکګرو ظالمانه او ځپونکي سياسي پاليسو په سبکونو او بڼو کې هم ورتوالي او ګډې ځانګړي ځانګړتياوې پېژندل کيږي.

په سياسي توګه پښتانه لکه د فلسطينيانو په شان مخکې تر دې چې دوی د يرغلګرو ځواکونو سره د يو تړون له مخي يو تفاهم ته سره ورسيږي، د دوی څخه ټول د ولسواکۍ بنسټيز حقونه يا Participation right غلا او لوټ کړلي شوي دي. هر يوه نيواکګر ځواک په خپل وار سره د دوی د خود مختارۍ حقونه پايمال کړي يا د خپلواکۍ اداري اختيارات يې ورمحدود کړي دي. د دې ټولو ګډو شباهتونو يا ورتوالي سره سره بيا هم په باوري توګه د دواړو قضيو تر منځ د توپيرونو انکار نشي کېدای، دا توپيرونه د مذهبي شعور او د جګړې يا د کړکيچ سلوک ترمنځ احتمالي اړيکې کمزوري کولي شي.

د دې شرايطو اړوند په دې کانټکس کې دا پوښتنه راپورته کيږي، چې تر کومه حده دلته دا پېژندل شوي او په ګوته کړل شوي توپيرونه په ټوليزه توګه د مذهبي غورځنګونو د کړکيچ سلوک له اړوندو ستونزو سره تړاو لري. په دې مانا چې آيا د کړکيچ په سلوک کې د پېژندل شوې ستر انحراف ستونزې ته د منلو وړ او قناعت ښوونکي تشريح وړاندې کيدلای شي، کوم چې دلته د قضيې په تړاو څېړل شوي متحولونه ,, عامه پوهاوی ,, تر سره کولای شي. دا پوښتنه بايد په لاندې ډول تر څېړنې لاندې ونيول شي.

لومړني توپير په دواړو قضيو کې د کډوالو اړوند ستونزو کې يو لوی شدت تر سترګو کيږي او د اشغالي سيمو سره تړاو لرونکي دموګرافيک وضعيت يا وګړشمېر حالت بايد سم وپېژندل شي: د کډوالو او د موګرافيک وضعيت دواړه ستونزې د فلسطين په کړکيچ کې ځښت ډير بې رحمه، ظالمانه او حيرانونکي ابعاد لري. که څه هم د اسراييل لخوا د فلسطين په نيول شوي خاوره کې د غزې تړانګه د نورو سيمو په پرتله د دې ستونزې په پراخ ډګر کې پرته له اړنګ برنګه تر ټولو ډيره اغيزمنه شوي سيمه ده. که اسراييلي احصاييې او شمېرې سمې وي، نو له مخې يې تر اوسه د فلسطيني ځانمرګي بريدګرو ستره برخه د فلسطين د شمال لويديځ غاړې يا ويسټ بانک څخه راپورته شوي ده۶۰ . 1. له دې سره د دموګرافيک وضعيت او د کړکيچ حلولو کې د خشونت يا زور زياتي کاراونک ترمنځ نيغ په نيغه يو سيده تړاو نه ليدل کيږي.سربيره پردې دا هم بايد په پام کې ونيول شي، چې د خدايي خدمتګار غورځنګ تر پيدايښت مخکې پښتنه ټولنه او د پښتنو په سيمه کې د تشدد کچه په ښکاره توګه د پاموړ ځښته ډيره جګه ښودلي شوي ده. که څه هم له دې څخه انکار نشي کيدای، چې په ځينو مواردو او اړخونو کې د کډوالي ستونزې او دموګرافيک وضعيت د حماس لارويانو او پلويانو د تشدد او تاوتريخوالي کارولو کې مهم رول لوبولي دی. په دې توګه د کړکيچ چلند کې د انحراف لوړه درجه د پريکنده بهرني فکتورونو يا عواملو پر بنسټ په څرګنده او مناسبه توګه نشي تشريح کيدای .

---

۶۰. دا مالوماتي ارقام او شمېرې د ښاغلی شين بت لخوا د اسراييلو د ملي امينت له شبک څخه ترلاسه شوي دي. ( ۲۰۰۵ کال داسراييل سفارت )

1


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دویم ځانګړي د پاموړ پېژندل شوي توپیر د دواړو خوځښتونو په سازماني یا تنظیمي جوړښت، فورم او ډول کې پروت دی: په داسي حال کي چي د خدایي خدمتګارغورځنګ د مراتبو سلسله په جدي او کلکه توګه د پوځي مخبیلګه یا موډل په بڼه کي تنظیم شوي. د حماس په غورځنګ کي پریکړې د اوامرو یا امرونو له لارې نه، بلکي د بحثونو او خبرواترو په بهیر کي تر سره کیږي. په دې ډول په دې برخه کي په ښکاره توګه د هراړخیز ځرنګوالي له امله د کړکیچ حل یا هواري نشي تشریح کیدای: حماس د خپل تنظیم جوړښت فورم د اخوان المسلمین څخه اخیستلي دی. اخوان المسلمین تر دې دمه د اسراییل په وړاندې د زور زیاتي او تشدده کار نه دی اخیستلي. په داسي حال کي چي د پښتون ځلمي خوځښت تاوتریخوالي ته د چمتووالي له امله د خدایي خدمتګار غورځنګه رابېل شو. د پښتون ځلمي تنظیمي جوړښت د خدایي خدمتګار غورځنګ سره تړاو در لود. د خدایي خدمتګار غورځنګ په ښکاره توګه، په ډیر تینګار او په زغرده بې له شکه تشدد یا تاوتریخوالی ردولو او هممهاله یې په کلکه سره خپله د سلسلي مراتبو جدي لاره هم تعقیبوله. دوی به سملاسي په فوري او جدي توګه د تاوتریخوالي له مدافعینو یا د تشدد پالونکو سره پریکون کاولو. په داسي حال کي چي دا ډول چلند په یوه اندازه وچ کلک جوړښت کي لکه د خدایي خدمتګار غورځنګ جوړښت کي په یوه ستونزمنه بڼه کي پلي کیده. د ډیرو کتنو او ازمایښتونو پر بنسټ تر ډیره بریده دا یوه ناشوني کړنلاره وه. د دې سره سره داسي ښکاریده، چي دغه کړنلاره په ازمایښتي او ظاهري توګه په ډیره سختي سره د باور منتیا، منلتیا او د قناعت وړ ګرځیدله. په عمومي توګه هغه غورځنګونه چي پوځي جوړښتونه لري، د هغو غورځنګونو څخه چي د بحث او مشراکت له لارې رامنځ ته شوي، یوه اندازه عدم تشدد ته هیلمن بریښي: نو په دې اساس کیدای د متشددو مذهبي غورځنګونو په اړه چي د سلسله مراتب په اساس تنظیم شوي دي، یو ځو بیلګي هم وړاندي کړل شي لکه (لبناني حزب الله، په یوګاندا کي د Lord´s Resistance Army ) په پرتلیزه توګه د عدم تشدد، د مشارکت او ګډون په اساس رامنځته شوي غورځنګونه لکه (په هند کي د کانګرس ګوند، د سیرلیون په هیواد کي (WCRP) د مذهبونو نړیوال کنفرانس، د نړی د مذهبونو تر منځ د ډیالوګ شورا) پرته له دې توپیره د بل هر ډول مانا لټون انکار کیدای شي، ځکه په ډاډمنه توګه د مذهبي غورځنګونو دوه ګوني متضاد چلند د دوی د اورګانیزیشن په فورم کي نه دی پروت، ځو د دوی د مهمو متحولونو مرکز ټکی د دوه ګوني متضاد چلند په اړه په ریښتیني توګه تشریح کړل شي.

د دواړو قضیو د څېړلو په لومړي قدم کي د مذهب سره اړیکي یا غږیتوب په وجه د کړکیچ مخالف لوري یو د بله سره توپیر لري. د حضرت محمد (ص) د ژوند پر مهال په مدیني منوره کي د یهودیانو د ستري ټولني په اړه بې له شکه پاک قران کي د یهویانو په وړاندي یو شمېر واضع بیانونه یا الفاظ شتون لري. حماس دې بیانونو یا آیاتونو ته مراجعه کوي. دا په داسي حال کي چي په قرانکریم کي عیسویان اسلام دین ته نسبتاً یوه اندازه نږدي ښوولي شوي دي. ( vgl. Khoury 1991 :69 ff )،

د حماس لاسوندونو ته په ځیر سره کتل داسي تری څرګندیږي، چي حماس د خپل منشور په دوویشتمه ماده کي نړۍ د مؤمنو مسلمانانو او د کافرانو ملت ترمنځ ویشي.„ nation of unbelievera دا مطلب حماس د یووالي په توګه درک وي. پردې سربیره حماس په خپل منشور کي د شک و شوپیان ځای هم نه پیږدي، حماس د عیسویانو په وړاندي هم یو نامناسب چلند او دریځ غوره کړي دی. ( vgl. Art. 13,25 ChH)

له بله لوري باچاخان داسي اعلانوي، چي د ده د خدایي خدمتګاران غورځنګ خپلې ټولې چارې او کړنې د څښتن تعالی د ټولو مخلوقاتو لپاره ترسره کوي. که څه هم خان په خپلو ویناوو کي په ښکاره، واضع الفاظو د یهودیانو او د نورو لږکیو مذهبونو لارویان یادونه هم کړي ده (په دې اړه نور په ۴. ۱ څېرکی لوستلي شئ).

دلته هم د اسلامي غورځنګونو د کړکیچ سلوک او د کړکیچ د مخالف لوري د مذهبي اړیکو تر منځه کوم تړاو نه لیدل کیږي.د دې سربیره د ځینو اسلامي غورځنګونو له لوري د عیسویانو په وړاندي په ځانګړي ډول د امریکایانو په وړاندي په پراخه توګه تاوتریخوالی تر سره کیږي. لکه (په افغانستان او عراق کي)

د کړکیچ د مخالف لوري ښلا ښل مذهبي تړاونه یا اړیکي نشي کولای، چي د کړکیچ په سلوک کي پېژندل شوي توپیرونه تشریح کړي. پردې سربیره غوره او مانالرونکي ټکی د دواړو قضیو تر منځه زماني واټن دی او دا ټکی ښایي دلته په ځانګړي توګه په اسلامي فقه کي د نویو پرمختګونو له امله تر پوښتني لاندي راشي. په ځانګړي ډول دا باید په پام کي ونیول شي او پرې ډده ولګول شي، چي د سید قطب اندونو او اثارو پر اسلامي غورځنګونو باندې ستر اغېز درلودلي دی. ښاغلي نوسه پر ۱۹۹۸ کال کي په واضع او ښکاره توګه دا خبره روښانوي، چي سید قطب د اسلامي نړۍ لومړنی ستر عالم په اند، د خپرولو یا پراختیا ورکولو جهاد د هر مسلمان خپل انفرادي مسوولیت دی. دا په داسي حال کي چي حماس دفاعي جهاد ته د ځان د دفاع مکلفیت په مفهوم کي اشاره کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

دا مفهوم یا کانسپټ د اسلام د مبین دین د پیل راهیسې د اسلامي قوانینو یوه برخه جوړوي.
( Nüsse 1998:71f) په دې توګه حماس خپل وسله وال مقاومت ته په ښکاره ډول دلیل د سید قطب په دودیزه جهادي تګلاره کې نه راوړي او نه د هغه د مفکورې لاره تعقیبوي.
د خدایي خدمتګار غورځنګ په اړه داسې انګیرل کیږي، چې د خان یو شمېر الهامونه د هغه هندي سیال مهاتما ګاندي ته ورتوالي لري. د خان له لوري دا ډول یو مخکښ دریځ ته تمایل ښودل طبعاً یو څه د خپلې فکري پولې وړتیاووې ورهاخوا وتلو ته شرایط برابر وي. که د خدایي خدمتګارانو غورځنګ ګاندي جي د یو کافر (هیندو) په نامه یاد کړي هم وای او یا په دې سترګه یې ورته کتلي وای، د دې احتمال ځښت ډیر وو، چې دا ډول یو دریځ یا تګلارې به د باچاخان پر چال چلند، نظریاتو او مفکورو باندې هیڅ ډول اغېز نه وای اچولي او د ده پر کړنو او تګلارو باندې هیڅ ډول اغیز نه وای پرېښودلي او باچاخان به همداغسې په خپله لاره ټینګ ولاړ پاتې وای.
که څه هم د روحي او رواني فکري تاریخ پرمختګ پیښې اغېزې هیڅکله په بشپړه توګه نشي پټولای. دا شک شتون لري، چې څنګه د دواړو غورځنګونو ترمنځ د کړکیچ هوارۍ د افراطي انحراف په اساس تشریح کړل شي، پرته له دې چې د جهان شمولیت یا د انحصاریت مفکورو یا یو فرد ته منحصر فکر په لور ور ونه ګرځېدل شي.۶۱ .2
همدارنګه د هره یوې جغرافیایي سیمې په مذهبي مانا یا مذهبي اخیستنه کې د پاموړ جوت توپیرونه شتون لري. د دې څېړنپاڼې پر بنسټ د حماس دریځ په دې ډول څرګندیږي. د حماس منشور د یوولسمې او دیارلسمې مادې په اساس، د فلسطیني خاورې د یوې برخې څخه تیریدل، حماس ته د خپل مذهب د یوې حصې یا برخې څخه د تیریدلو مانا لري. ( vgl. Art.11,13 ChH) په دې ټوګه دا ډول فکر د یوې پایلې په حیث د انحصایت سره په اړیکه کې پریوځي، دا هم باید په پام کې نیول کیږي؛ چې دا ډول فکر د انحصاري مفکورې تولید دې هیواد په ځانګړې اهمیت کې نغښتي دی. د حماس د قضیې په تړاو دا ډول یوه مفکوره تر ډیره بریده ډیره ښه پربوتي ده. او په خلاصه توګه په پای کې دغه ستونزه حل نه کیدونکې او نه تفکیک کیدونکی ده. که څه هم داسې ښکاري او کیدای شي له دې لارې په نورو هیوادو کې د اسلامي غورځنګونو تشدد یا تاوتریخوالۍ هم تشریح کړل شي، چې په هغو هیوادو کې هیڅ ډول سپیڅلي ځایونه شتون نلري، څو د تاوتریخوالي د انګیزې په توګه ترینه یادونه وشي لکه (په افغانستان کې)
که څه هم حماس نورو مسلمانانو ته د فلسطین د ځمکنې بشپړتیا ساتلو او د خاورې پر اهمیت باندې په ډېرشدت سره ټینګار کوي، د قضیې دا اړخ په بشپړه توګه له پامه نشي غورځیدلي. نوله همدې امله د اسلامي غورځنګونو دوه ګونې متضاد چلند توپیرونه سم نشي تشریح کیدلاي.
په دواړو ښکېلو قضیو کې یو بل خورا مهم توپیر ښایي د کړکیچ د مخالفینو اړوند حالت، جنسیت او ماهیت سره تړاو ولري: د لوی بریتانیا د ښکیلاکګري امپراتوري په وړاندې د مقاومت پر مهال، د مقاومتګرو ډلو لخوا داسې استدلال وړاندې کیده، چې برتانویان باید خپل هیواد ته بیرته ستانه شي. په همدې ډول د حماس غوښتنه هم همداسې ده، چې اسراییلیان باید په بشپړ توګه د فلسطیني خاورې څخه ووځي او باید د خپلو ټولو ځمکنی بشپړتیا او ملي حاکمیت ادعاوې څخه تیر شي.د ملګروملتونو لخوا د فلسطیني سیمو په اړه د ورسپارل شوي حقوقي وکالتلیک څخه هم تیرشي. برسیره پردې حماس دا غوښتنه هم کوي، چې یهودیان باید خپلو Diaspora سیمو (خپلو لړکیو سیمو ته ډله ډله ) بیرته ستانه شي، په کومه چې راغلي دي، بیرته دې په هماغه لار ولاړل شي. دا چې اسراییلیان یا یهودیان د فلسطیني تاریخي خاوري څخه بهر هیچ کوم بل هیواد په واک کې نلري. دغه ستونزه پرته له شکه تر ډیره بریده په ښکاره توګه د پاموړ ستونزه ده او په دې کړکیچ کې د یو مهم توپیر په توګه راجوتیږي. توپیر په دې ډول دی، چې په ډیرو نورو مواردو او قضیو کې د نیواک حالت او د اشغالګرو په وړاندې د اسلامي غورځنګونو د تاوتریخوالي اعمالو کې داسې موندلي شو، چې د دوی (یرغلګرو ) لخوا په ادعا شویو یا نیول شویو خاورې برسیره یرغلګر خپل هیواد په اختیار کې لري.د بیلګې په ډول دلته د افغانستان او عراق څخه یادونه کیدای شي. د دې توپیره پرته د بل هر ډول تړاو په رسمیت پیژندنه به یوه نا مناسبه او ناشوني شوني چار وي. څو د اشغال په حالت کې د اسلامي غورځنګونو د کړکیچ چلند د جګړې خصوصیات په سمه قناعت ښونکي توګه تشریح کړل شي.

۶۱ دلته هم د ښاغلي کوشل تیوري ته مراجعه کیږي،چې جهان شموله او انحصاري فکرونه بایدله پیله د یو بل په څنګ کې په پام کې نیول شي.

.[2]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د دواړو قضيو اړوند دلته په مطرح شوي را ټولې شوي موندني او لاسته راوړني تر منځ توپيرونو سره يوه دوه ګوني پايله رانږدې کيږي: له يوې خوا دا ثابته شوه، چې ګڼ شمېر اړوند توپيرونه شتون لري، دا توپيرونه د دريمګړي متحولونو له لوري په بشپړه توګه نشي کنټروليدلي. نو په دې توګه تر ډيره بريده دا روا يا منلي کيدای هم نشي. څو د کړکيچ د حلولو په بهير کې د تشدد يا تاوتريخوالي ډک اعمالو او د عدم تشدد تر منځ توپيرونه يواځې او په ځانګړي توګه د عامه پوهاوي په بېلا بېلو بنو کې نسبتيت ورته ورموندلي کيدای شي. له بل پلوه داسي انګيرل کيږي، چې آن غټ او د پامور توپيرونه په دې ونتوانيدل، چې د اشغال په حالت کې د اسلامي غورځنګونو د کړکيچ سلوک، دوګوني متضاد چلند په سمه توګه د منلو وړ تشريح کړي. په دې ځېړل او پلټل شويو قضيو کې د محتولونو ډير لوړ بيان کيدای شي دې احتمالي پايلو ته د برائت وسايل برابر کاندي، چې متحول عامه پوهاوي يوه مهمه مانا او ونډه د دې څېړني په ډګر کې درلودلي ده.

## ۶. ۳ د شعور ممکنه بدلون د اړيکو شونتيا

تر اوسه يو کمزورې ټکې په دې غوره شوي کړنلاره کې داسي ښوول کيږي، چې يو ( جهان شموله او يا انحصاري) پوهاوي په يوه معينه زماني مقطه کې مطرح کيږي او په هغه کې بايد د کړکيچ سلوک ټول ورستی بهير رانغښتل شي، پرته له دې چې پکې ممکنه شعور په پام کې ونيول شي په دې اساس وسمهال دا پوښتنه رامنځته کيږي، چې آيا په دې پلټل شوي او څيړل شوي غورځنګونو کې د شعور ممکنه بدلون تر سره شوي دی. که څه هم د دې پوښتنې کتنه او ارزونه يوازې د يوه نمونوي چوکاټ په دننه کې شوني بريښي.
د باچاخان مفکوري ته په پام سره د هغه ورستي ويناووې، څرګندوني او د ادعاوې محتويات هيڅ شک و شوپيان ته ځای نه پريږدي، د خانانو خان په پرله پسي توګه ټول بشريت خپل ټول فکر بنسټ ګرځولي وو او هغه به له دې لارې د عدم تشدد کټګوريو ته ژمني تر لاسه کولي. پر ۱۹۴۰ کال د خان له خولي دا خبره ثابتوي او روښانوي:
The Khudai Khidmatgars must (…) be what our name imples : Servants of God دی وايي،
د ښاغلی رامو له خوا پر ) and humanity by laying down our own lives and never taking any life
۱۹۹۱ :کال په ۶۲ مه پاڼه کې تيرنه ياده ونه شوي ده ).
که څه هم د حماس په اړه داسي ښوول کيږي، چې د دوی د سياسي دفتر د لاسوندونو پر بنسټ مذهبي استدلالونه د سياسي استدلالونو په پرتله په زياتيدونکي توګه شا ته غورځول کيږي ۶۲ .3
د حماس په اړه سر چيني دا ښې چې دوی په بنسټيز ډول، په دوامدار او پرله پسې توګه انحصاريت ته تمايل ښوولي دی. ( ( vgl.Abu-Shanab 1999:169 Hamed1999:180;Freund 2002: 45 ff. په همدې توګه د حماس د ۲۰۰۱ کال شپې پاڼو يا شبنامو کې په څرګنده توګه ليدل کيږي، چې حماس تر اوسه نړۍ د مؤمن او کفار تر منځ ويشي او همدارنګه دوی ځانونه د الله تعالی له خوا په غوره شوي کسانو کې شمېري او په دې توګه دوی ځانونه کفارو ته په سزا ورکولو کې مکلف بولي ۶۳.4
په دې توګه په دواړو غورځنګونو کې د پوهاوي بدلون هيڅ نښې نښانې نشي ثابتيدلي. د کړکيچ د سلوک په اړه يو ثبوت دا دی، چې د کړکيچ سلوک په مستقيمه يا غيرمستقيمه توګه د عامه يا انحصاري پوهاوي په پايله کې رامنځ ته کيږي. له دې سره خبره نه تماميږي، دا هم شوني ده چې د انحصاري يا د عامه پوهاوي مفکوره د تشدد کاروني

---

۶۲ د ښاغلي هوريب د يادښتونو په ضميمه کې دغه بدلون په ښکاره توګه ليدل کيږي .

3 .

۶۳ د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په ۲۸ نيټه د حماس په يوه شبنامه کې داسي ليکلي شوي وو،
. „O ye who believe. If you obey the Unbelievers, they will drive you back on your heels“ (zitiert nach

Alexander 2002: 111). Auf Flugblättern der Hamas im Juni 2001 heißt es: „Fight them and Allah will punish them by your hands“ (vgl. Alexander 2002: 134, 137). 4


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ورسته وده کولي شي او همداسي دوام موندلي شي ۶۴ .5 دې شونتيا د حذفولو د پاره بايد نوري پلټني او تحقيقات ترسره شي او دا شونتياوې د دې څېړنې او پلټنې څخه مخکې بايد ترسره شوي واى. دا هغه څه دي، چې دلته په دغه څېړنه کې نشي تر لاسه کيداى. اما نور ټول مطالعه شوي، څېړل شوي، تحليل شوي توکي او لاسوندونه د دې څېړنې د کاري مودې چوکاټ کې په دربيم څېرکي کې په وړاندې شوي توقعاتو يا تمې باندې ډېر لګوي او په دې څېړنه کې د تحقيق او پلټل شويو متحولونو ته له نږدې نه ستر اهميت او مانا ورکوي.

## ۶. ۴ د تيوريکي او عملي اغېزو يوځايوالي

د عامه پوهاوي متحولونه کوم چې د سريزې په پيليزه برخه کې د ښاغلي هزن کليور لخوا د تشريحي او توضحي وينا ځواک پر بنياد په رسمي بنې کې وړاندې شول او دا مطلب که لږ څه نور په دقيقه توګه وښوول شي. په دواړو قضيو کې رسمي بنه د رسمي مذهبي زده کړو خوصيات د تشريحي او توضحي ويناوو ځواکه پر بنسټ پيژندل کيداى شي: دا په داسي حال کې چې پښتانه د يو واحد ولس په توګه، په دوى کې تر ۹۰ سلنې زياد شمېر کې نالوستي شتون درلود. بيا هم پښتانه په دې وتوانيدل چې د څه باندې يوه نيمې لسيزې په لړ کې د عدم تشدد تګلارې ته وفاداره پاتي شي او يا د بې تاوه پاخون څخه اطاعت وکړي.
په بل لوري کې يو ستر اسلامي غورځنګ لکه څنګه چې ويل کيږي او انګيرل کيږي، چې دوى ځانونه د دربيمه نړۍ په ولسونو کې تر ټولو ښه روزل شوي په لوړه کچه لوستى ملت ګڼي (vgl. Aref 1999:189) دوى د څه باندې يوې لسيزې څخه ډېر د اسراييل په وړاندې له پراخه تشدد يا تر ټولو ستر تاوتريخوالي څخه کار اخيستلي دى او دوى خپل جګپوړي چارواکي، مشران او فعالين په پوهنتوني چاپيريال کې جلب و جذبوي يا د دوى مشران ټول پوهنتون لوستي دي؛ دواړه غورځنګونه په مساويانه توګه په ډېره ټينګه او سخته بڼه کې په مذهبي زده کړو باندې ټينګار کوي. دلته په دې برخه کې هم د مذهبي زده کړو له لارې د وسيله ګرځيدلو يا آلّه ګرځيدلو ګواښ کموالى نه ترسترګو کيږي ۶۵. 6.
کله چې د ديني زده کړو زدکړوال ښوونه يا تدريس د تعليم له لارې د کلکو او جدي اقداماتو په وجه د تشدد يا تاوتريخوالي څخه ملاتړي کوي او يا دتشدد يا خشونت ردونکي دريځ خپلوي، کيداى شي دا د ښوونکى يا روزونکى د ايماني پوهې يا د مذهب په درکولو پورې اړه لري، په دې مانا، دا په دې پورې اړه لري، چې مذهبي ښوونکى د خپل مذهب څخه په څه ډول پوهه لري، انحصاري که جهان شموله پوهه لري په همدې توګه په پاى کې ښوونه او روزنه په خوندي او روښانه توګه تر سره کيږي. داسي انګيرل کيږي، چې د خپل ديني فکر بريالي زده کړه د مذهبي تعليم له لارې د غورځنګونو پر غاړه ده، دا د نومړو غورځنګونو پورې اړه لري، چې دوى د کړکيچ په هوارې کې د خپلې خوښې کومه لار د تطبيق وړ ګڼي. دې ته ورته يو انځور د ښاغلي هزن کليولخوا د دې څېړنې په دربيمه برخه کې په وړاندې شوي بڼه کې د فراملي شبکو په نامه را ښکاره شوي دى. په داسي حال کې چې حماس د يو فراملي شبکې له غورځنګه راوتلي دى او په نړيوال کچ خپلې فراملي اړيکې هم پالي ورسره په پراخه کچه د تشدد يا تاوترخوالي هم کاروي.
اما بې تشدد خدايي خدمتګار غورځنګ عدم تشدد په داسي يو چاپريال کې پاللو، چې دوى يواځې د هند کانګرس ګوند سره (د يوې اوږدې مودې روغې جوړې او په پاى کې کړکيچني او بحران ځپلي اړيکې لرلي) همکاري کوله، له دې پرته دوى د برتانوي هند ورهاخوا هيڅ ډول فراملي شبکو سره اړيکې نه درلودلې. ان دا خبره هم سمه نه پريوځي، چې د فراملي شبکو سره اړيکي لرل، د وسيلي ګرځيدلو ګواښ راټيټوي ۶۶ 7. اما دا ځانګړنه کيداى شي د متحولو عامه پوهاوي د نښلو د اړيکو له لارې ترلاسه شي، سربيره پردې يو اړين فکتور دا روښانه کولي شي : چې يو جهان شموله ناپيلي اسلامي غورځنګ لکه د خدايي خدمتګارانو غورځنګ پرته له کومې ستونزې په اساني

---

. ۶۴ دا امکان د حماس په قضيه کې احتکالاٍ نشي په پام کې نيولي کيداى، خکه انحصاريت په داسي يو محال کې تاکل شوي دى، چې د هغوي په مقاومت کې د تاوتريخوالى کچه [5]په نسبي ډول لږ محسوسيدله .

[6] . په ۲۰۰۴ کال کې د ښاغلي هزن کليور لومړنې تيزس دا خبره تاييدوي .

[7] . Vgl. ebenda: 11. د ښاغلي هبنده اقتباس په پرتله


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سره کولای شي، چې د يو غيرمسلمان همکار سره کومک او همکاري وکړي. په داسي حال کې چې د حماس همکاري، ملاتړ او شبکې اړيکې يواځې د اسلامي فعالينو يا اکټورانوسره تړاو لري او د خپلي مذهبي پولې ورهاخو د نورو اديانو سره متقابله همکاري د دواړو خواوو له لوري په مذهبي متقابلو کې د غورځنګ د انحصاري کړنلارې له امله مخنيونه کيږي. له دې سره په پای کې يوه موثره جدي او سوله منه اغيزمنه فراملي شبکه اړينه بريښي .کله چې د سيال همکار يا د پارټنر همکار کړنې او فکرونه د خپلو پولو ورهاخوا ورتيريږي، يعني د جهان شموليت به فکرونو کې نغښتي وي. او کله چې داسي يو تفکر شتون ولري، کيدای شي له دې لارې په يوه عام فهمه فراملي شبکه کې د سولې روح ته وده ورکړل شي. که سړی دا ډول سازماني بڼې چې د عامه پوهاوي متحولونه دي، د ابتدايي عنصري متحولونو په څير وړاندې کړي. نو کيدای شي د ښاغلي هزن کليور ځانګړې رسمي بڼې (همدارنګه د نورو مهمو عواملو او فکتورنو سره) له دغو متحولونو سره په اغيزمنو شراطو کې په تړاو کې راوستلي کيدای شي، دا به د کړکيچ په حالت کې د تشدد او تاوتريخوالي په اړوند د مذهبونو دوګونې متضاد چلند ستونزې د قناعت وړ هواري کړي. د دا ډول نورو څېړنو او پلټنو ورګډول به هم د ورته متحولونو په ترکيب کې تحليلي شي. داسي ښکاري، چې دا ټکی يو ستره رول او يوه مهمه مانا د مذهبي شخړو او کړکيچونو په څېړلو کې لري.له همدې امله کيدای شي او معقوله وښکاري، دلته چې کوم متحولونه وڅېړل شول او وپلټل شول، پر نورو اديانو يا مذهبونو، نورو ښکېلو ډلو ټپلواو نورو ټاکل شويوحالتونو په چوکاټ کې ترينه کار اخيستنه کيدای شي. په ځانګړي ډول د مذهبونو ارزونې يا پرتله کولوڅيړنو په اړه او همداسي د مذهبي پولو ورهاخوا، د مذهبونو سره تړوا لرونکي فعال اکټورانو په اړه د دې څېړنې د پايلې سره يوه ستر مهمه نښلونکي اړيکه لري. د څېړنې څخه ترلاسه شوې پايلې د علمي اړخ تر څنګه د عملي اړخ سره هم مهم تړاو درلودلي شي: کله چې تر پولې هاخوا بهيدونکي فکرونه کولي شي، سوله ييزې کړنې يا اقدامات، د سولې فعاليت او قابليت عمل نوره ورجګ او ور زيات کړي، بيا نو د ټولو دولتي او ټولنيز، خصوصي فعالينو پورې اړه لري، څو دا ډول مفکرو يا فکرونو خپرلو ته وده ورکړي .له دې امله دا د ټولو يوه مهمه او اړينه دنده کيدای شي، چې په ګډه سره د کلتورنو او مذهبونو ترمنځ همغږګي او مشابهتونو باندې ټينګار وکړل شي. خلک نه بايد د پرديو په وړاندې ويرونې، ډارونې او د پرديو په وړاندې تبعيض ته ولمځول شي .په فکرونو کې د دښمنۍ انځورونه بايد ړنګ کړل شي او په ځانګړي ډول په ټولو کچو او په ټولو برخو کې او په ټولو فورمونو کې خبرو اترو يا ډيالوګ ته بايد وده ورکړل شي او اجازه ورکړي. څو له دې لارې د انسانانو ترمنځ د عامه پوهاوي شعور وده وکړي. څومره چې په دې لاره کې برياليتوب ترلاسه شی، په هماغه کچه د سوله ييز ژوند ژور لرليد، د دولتونو، مذهبونو، انسانانو او ولسونو ترمنځ د سولې او ثبات ښه انډول رامنځته کيدای شي.

پای

اخيځليکونه:


Abu-Shanab: Ismail 1999: The Islamist Approach of the Resistance Against Israeli Occupation in Palestine. The Strategy of Hamas in the Present and in the Future, in: Freund, Wolfgang (Hg.): Palestinian Perspectives, Frankfurt a.M.: Peter Lang Publisher, S. 165-174.
Amayreh, Khalid 2004: Hamas Hits Back., in: Middle East International, Nr. 732, S. 20.
Amayreh, Khalid 2005: Teetering Cease-Fire, in: Middle East International, Nr. 755, S. 13-14.
Appleby, R. Scott 2000: The Ambivalence of the Sacred. Religion, Violence and Reconciliation, Lanham: Rowman & Littlefield.
Aref, Yousef 1999: Reflections on Education in the West Bank Between 1967 and 1998, in: Freund, Wolfgang (Hg.): Palestinian Perspectives, Frankfurt a.M.: Peter Lang Publisher, S. 188-192.
Bakshi, S.R. 1991: Struggle for Independence. Abdul Ghaffar Khan, New Delhi: Anmol Publications.
Banerjee, Mukulika 2000: The Pathan Unarmed. Opposition and Memory in the North West Frontier, Krachi/New Delhi: Oxford University Press.
Beaupain, André 2005: Befreiung oder Islamisierung? Hamas und PLO. Die zwei Gesichter des palästinensischen Widerstandes, Marburg: Tectum Verlag.
Beck, Martin 2002: Friedensprozess im Nahen Osten. Rationalität, Kooperation und Politische Rente im Vorderen Orient, Wiesbaden: Westdeutscher Verlag.
Berndt, Hagen 1998: Gewaltfreiheit in den Weltreligionen. Vision und Wirklichkeit, Gütersloh: Gütersloher Verlagshaus.
Bielefeldt, Heiner / Heitmeyer, Wilhelm (Hg.) 1998: Politisierte Religion. Ursachen und Erscheinungsformen des modernen Fundamentalismus, Frankfurt a.M.: Suhrkamp.
Botschaft Israel 2005: Neue Statistik. Die meisten Selbstmordattentäter sind minderjährig und gebildet, Newsletter der Botschaft des Staates Israel vom 15. Juli 2005, http://nlarchiv.israel.de/2005_html/07/Newsletter%20vom%202005-07-15a.htm, [Zugriff: 25.06.2007].

Charter of the Islamic Resistance Movement Hamas (ChH) 1988, in: Mishal, Shaul / Sela, Avraham 2000: The Palestinian Hamas. Vision, Violence, and Coexistence, New York: Columbia University Press, S. 177-199.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

Cox, Harvey 1994: World Religions and Conflict Resolution, in: Johnston, Douglas / Sampson, Cynthia (Hg.) 1994: Religion. The Missing Dimension of Statecraft, Oxford: Oxford University Press, S. 266-282.
Easwaran, Eknath 1984: A Man to Match His Mountains. Badshah Khan. Nonviolent Soldier of Islam, Petaluma, CA: Nilgiri Press.
Ebert, Theodor 1998: Vorwort, in: Berndt, Hagen: Gewaltfreiheit in den Weltreligionen. Vision und Wirklichkeit, Gütersloh: Gütersloher Verlagshaus, S. 7-12.
Endreß, Gerhard 1991: Der Islam. Einführung in seine Geschichte, 2. überarbeitete Auflage, München: C.H. Beck.
Esposito, John L. 1995: The Islamic Threat. Myth or Reality?, 2. Auflage, Oxford: Oxford University Press.
Freund, Wolfgang 2002: Looking into Hamas and Other Constituents of Palestinian-Israeli-Confrontation, Frankfurt a.M.: Lang.
Frost, Mervyn 1996: Ethics in International Relations. A Constitutive Theory, Cambridge: Cambridge University Press.
Galtung, Johan 1975: Strukturelle Gewalt. Beiträge zur Friedens- und Konfliktforschung, Reinbek: Rowohlt.
Haile, Thomas 1992: Die Ökonomie der Intifada. Fallstudie in einem palästinensischen Dorf in der Westbank, Münster: LIT Verlag.
Hamed, Ghazi A. 1999: The Relationship between Hamas and the Palestinian National Authority (PNA). The Conflictual Past and the Unknown Future, in: Freund, Wolfgang (Hg.): Palestinian Perspectives, Frankfurt a.M.: Peter Lang Publisher, S. 175-188.
Hasenclever, Andreas 2003: Kriegstreiber und Friedensengel. Die Rollen von Religionen und Glaubensgemeinschaften in bewaffneten Konflikten, in: Hauswedell, Corinna et al. (Hg.): Friedensgutachten, Münster: LIT Verlag, S. 71-79.
Hasenclever, Andreas 2004: Besser als ihr Ruf? Die Rolle von Religionen in Konflikten, in: Zentrum Ökumene der Evangelischen Kirche Hessen/Nassau (Hg.): Krieg nach Gottes Willen. Zum Verhältnis von Religion und Gewalt, Frankfurt a.M., www.kdv-zdl.de/dekade-e01.pdf [Zugriff: 11.05.2007].
Hildebrandt, Mathias 2005: Einleitung. Unfriedliche Religionen? Das politische Gewalt- und Konfliktpotenzial von Religionen, in: Hildebrandt, Mathias / Brocker, Manfred (Hg.): Unfriedliche Religionen? Das politische Gewalt- und Konfliktpotenzial von Religionen, Wiesbaden: VS-Verlag für Sozialwissenschaften, S. 9-35.
Hopf, Ted 1998: The Promise of Constructivism in International Relations Theory, in: International Security 23:1, S. 171-200.
Hroub, Khaled 2000: Hamas. Political Thought and Practice, Washington, DC: Institute for Palestine Studies.
Hroub, Khaled 2004: Hamas after Shaikh Yasin and Rantisi, in: Journal of Palestinian Studies 23:4, S. 21-38.
Huntington, Samuel P. 1996: Der Kampf der Kulturen. Die Neugestaltung der Weltpolitik im 21. Jahrhundert, München/Wien: Europa-Verlag.
Johansen, Robert C. 1997: Radical Islam and Non-Violence: A Case Study of Religious Empowerment and Constraint Among Paschtuns, in: Journal of Peace Research 34:1, S. 53-71.
Johnston, Douglas / Sampson, Cynthia (Hg.) 1994: Religion. The Missing Dimension of Statecraft, Oxford: Oxford University Press.
Johnston, Douglas (Hg.) 2003: Faith-based Diplomacy. Trumping Realpolitik, Oxford: Oxford University Press.
Juergensmeyer, Mark 2000: Terror in the Mind of God. The Global Rise of Religious Violence, Berkeley: University of California Press.
Kasper, Walther et al. (Hg.) 1998: Lexikon für Theologie und Kirche, Band 7, 3. Auflage, Freiburg: Herder.
Kepel, Gilles 1994: Die Rache Gottes. Radikale Moslems, Christen und Juden auf dem Vormarsch, 3. Aufl. (Neuausgabe), München: Piper.
Khan Abdul Ghaffar Khan 1969: My life and struggle: Autobiography of Badshah Khan, Hind Pocket Books, New Delhi.
Khan, Khan Abdul Wali 1995: Life and Thought of Badshah Khan, in: Nehru Memorial Museum and Library (Hg.): Khan Abdul Ghaffar Khan. A Centennial Tribute, New Delhi, S. 1-21.
Khoury, Adel Theodor 1991: Was sagt der Koran zum Heiligen Krieg?, Gütersloh: Gerd Mohn.
Khoury, Adel Theodor 2002: Mit Muslimen in Frieden leben. Friedenspotentiale des Islam, Würzburg: Echter.
Krämer, Gudrun 2002: Geschichte Palästinas. Von der osmanischen Eroberung bis zur Gründung des Staates Israel, München: C.H. Bec.
Kuschel, Karl-Josef 2001: Streit um Abraham. Was Juden, Christen und Muslime trennt – und was sie eint, Neuausgabe (erstmals 1994), Düsseldorf: Patmos.
Legrain, Jean-Francois 1997: Hamas. Legitimate Heir or Palestinian Nationalism?, in: Esposito, John L. (Hg.): Political Islam: Revolution, Radicalism or Reform? Boulder: Lynne Rienner, S. 159-178.
Mera, Parshotan 1995: Olaf Caroe, The Khan Brothers and the Transfer of Power in the North-West Frontier Province 1945-1947. An Interpretation, in: Nehru Memorial Museum and Library (Hg.): Khan Abdul Ghaffar Khan. A Centennial Tribute, New Delhi: Har-Anand Publications, S. 129-157.
Meyer, Thomas 1998: Die Politisierung kultureller Differenz. Fundamentalismus, Kultur und Politik, in: Bielefeldt, Heiner / Heitmeyer, Wilhelm (Hg.): Politisierte Religion. Ursachen und Erscheinungsformen des modernen Fundamentalismus, Frankfurt a.M.: Suhrkamp, S. 37-66.
Mishal, Shaul / Sela, Avraham 2000: The Palestinian Hamas. Vision, Violence, and Coexistence, New York: Columbia University Press.
Nüsse, Andrea 1998: Muslim Palestine. The Ideology of Hamas, Amsterdam: Harwood Academic Publishers.
Paret, Rudi 1980: Mohammed und der Koran, 5. Auflage, Stuttgart: Kohlhammer.
Ramu, P.S. 1991: Badshah Khan. Indo-Pakistan Relations, Delhi: S.S. Publishers.
Ramu, P.S. 1992: Khudai Khidmatgar and National Movement. Momentous Speeches of Badshah Khan, Delhi: S.S. Publishers.
Riesebrodt, Martin 2000: Die Rückkehr der Religionen. Fundamentalismus und der Kampf der Kulturen, München: C.H. Beck.
Rittberger, Volker / Hasenclever, Andreas 2000: Religionen in Konflikten. Religiöser Glaube als Quelle von Gewalt und Frieden, in: Politisches Denken: Jahrbuch der Deutschen Gesellschaft zur Erforschung des Politischen Denkens, S. 35-60.
Sampson, Cynthia / Lederach, John Paul (Hg.) 2000: From the Ground Up. Mennonite Contributions to International Peacebuilding, Oxford: Oxford University Press. Senghaas, Dieter 1998: Zivilisierung wider Willen. Der Konflikt der Kulturen mit sich selbst, Frankfurt a.M.: Suhrkamp.
Shahak, Israel 2002: Between Hamas and Goldstein, in: Freund, Wolfgang: Looking into Hamas and Other Constituents of Palestinian-Israeli-Confrontation, Frankfurt a.M.: Peter Lang Publisher, S.160-163.
Sharp, Gene 1973: The Politics of Nonviolent Action, Boston: Porter Sargent.
Tai, Andreas 1997: Widerstand im Namen Allahs. Die Hamas als politischer Faktor im Friedensprozess, in: Ibrahim, Ferhad / Ashkenasi, Abraham (Hg.): Der Friedensprozess im Nahen Osten – Eine Revision, Münster: LIT Verlag, S. 139-158.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

Tendulkar, D. G. 1967: Faith is a Battle, Bombay: Popular Prakashan.
Tessore, Dag 2004: Der Heilige Krieg im Christentum und Islam, Düsseldorf: Patmos.
Tishkov, Valery 1997: Ethnicity, Nationalism and Conflict in and after the Soviet Union. The Mind Aflame, London: SAGE Publications.
Van Evera, Stephen 1997: Guide to Methods for Students of Political Science, Ithaca, NY: Cornell University Press.
Usher, Graham 2005: Abu Mazen’s Progress, in: Middle East International, Nr. 743, S. 10-12.
Vermani, R.C. 1983: British Colonialism in India, Delhi: Authors Guild.
Watt, W. Montgomery / Welch, Alford T. 1980: Der Islam I. Mohammed und die Frühzeit – Islamisches Recht – Religiöses Leben, Stuttgart: Kohlhammer




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ